مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۲/۰۲/۲۶

د روسپي مهمو مخکښو ساینسپوهانو سر خلاصی لیک چې د ولسمشر ولادیمیر پوتین پر وړاندې ودریدل:

دا جګړه یو ستر بد خیانت دی او د هیڅ شی په لوري یو ګام

موږ د روسپي ساینسپوهان او د ساینس ژونالستان د اوکرائین په خاوره کي زموږ د هیواد وسله والو ځواکونو لخوا د پیل شوي جګړې په وړاندې سخت احتجاج کوو او به وړاندې دریزو. ,,په اروپا کي د نوي جګړې مسوولیت یوازې د روسیې پر غاړه دی،،.

دا یو وژونکی ګام او اقدام دی، چې د سترو انساني قربانیو پایله او لامل ګرځي او د نړیوال امنیت د تاسیس شوي سیستم بنسټونه کمزوري کوي. په اروپا کي د نوي جګړې پیلولو مسوولیت په بشپړه توګه د روسپي پر غاړه دی.
د دې جګړې لپاره هیڅ ډول معقول او منطقي توجیه نشته. د ډونباس په سیمه کي وضیعت د پوځي عملیاتو پیل کولو لپاره د فرصت په توګه کارول او کاراخیستلو هڅې په هیڅ ډول باورنه هڅوي اوبرخلاف بې اعتمادي هڅوي.
دا په ښکاره توګه یوه ځرګنده خبره ده، چې اوکرایین زموږ د هیواد امنیت ته هیڅ ډول ګواښ نه دی پیښ کړي. د دوی پر ضد جګړه بې بنسټه او په ښکاره ډول بې مانا ده.

موږ ته اوکرائین و او وي به یو نړدي هیواد او نړدي به پاتي شي. زموږ څخه ډېرى په اوکرائین کي خپلوان لري، همدارنګه نړدي ملګري او د ساینس په برخه کي همکارانو لرو. زموږ پلرونو، نیکونو او غوږو نیکونو په ګډه د نازي جرمني ملي سوسیالیزم پر ضد جنګیدلي دي. د روسپي د فډراسیون د مشرتابه د جیوپولټیک هیلو په اړه د جګړې پیلول، د شکمنو تاریخي فنټزیو یا تصوراتو لخوا هدایت کیږي، دا د دوی د حافظي سره یو ستر بد خیانت دی.

موږ د اوکرائین دولت ته درناوی کوو، کوم چې په ریښتیني مانا سره د فعالو ډیموکراتیکو ادارو پربنسټ ولاړ دی. موږ اروپا ته د خپلو ګاونډیانو انتخاب په درک سره ګورو. موږ باروي یو چې زموږ د هیواد ترمنځ په اړیکو کي ټولي ستونزې په سوله ییزه توګه حل کیدای شي.

د جګړې د پیلولو سره روسپي ځان پر نړیوال کچ انزوا ته محکوم کړ، یو رټلي شوي یا مطرود هیواد وګرځید. دا پدې مانا ده، چې وسمهال موږ ساینسپوهان نشو کولي خپل کار په نورمال ډول پرمخ یوسو، ځکه عملي څېرني د نورو هیوادونو د ساینسي همکارانو له بشپړې همکارۍ پرته د تصور وړ نه دي. پر نړیوال کچ د روسپي انزوا زموږ د هیواد د کولتوري او تخنیکي ارزښتونو د لا زیاتو کمښت په مانا ده، چې په بشپړه توګه د مثبتو شونتیاو د نشتوالي سره مخ یو، د اوکرایین په وړاندې جګړه د هیڅ شي په لور یو ګام دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا زمور لپاره یوه ستونزمنه خبره ده او ګورو، چې زمور هیواد د جرمني نازیزم پر وړاندې په بریا کې یوه پرېکړه کونکې وندې درلودلې ده، اوس زمور هیواد په اروپا کې د یوې نوې جګړې محرک یا هڅوونکی په توګه بدل شوې دی. مور د اوکرایین پر ضد د ټولو پوځي اقداماتو د سمدستي بندولو غوښتنه کوو. مور د اوکرایین د دولت حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ته د درناوي غوښتنه کوو. مور په خپلو هیوادونو کې سوله غواړو.

یادونه: د روسیې علومو اکاډمۍ د ۶۵ غړو په ګډون د څه باندې ۳۸۰ ساینس پوهانو په ۲۴ ساعتونو کې دغه پرانیستې لیک لاسلیک کړې دی، چې پر انټرنیټ هم خپور شوې دی. په ۱۷۲۴ کال کې د دې اکاډمۍ بنسټ د لوی پیټر لخوا اینښودل شوې دی او په ماسکو کې مېشته ده. د روسیې ملي اکاډمۍ د روسیې په فډراسیون کې تر ټولو لوړ رتبه څېړنیزه اداره ده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ